# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com  afgazad@gmail.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



درویش وردک

۲۶ اپریل ۲۰۱۶

## دوه دیرشم مجلس
## (دخدای داوامرو ترسره کول اوله منهیاتوډډه کول)

دجمعی په ورځ سهارد ۵۴۵هجری قمری کال دجمادی الاخرپه یوولسمه شیخ عبدالقادرگیلانی(رضی الله تعالی عنه) داسی وفرمایل:

دخدای امرته غاړه کښیږدی اوله منهیاتوڅخه لیری والی وکړی، اوپرکړاونو اوستونزو صابره اوشکیبا اوسی، نفل اوسنت لمونځونه پرځای کړی، په روښانه سترګواووپین زړه دحق دتوفیق په لټه کی اوسی. دذلت اوخواری په حال کی له ده وغواړه چی دطاعت اوبندګی موجوبات له هرلوری درته مهیا کړی. ځکه هرکله که خدای وغواړی یوکارترسره کړی، دهغی اسباب اووسایل هم بشپړ کوی، اودهغی دترسره کولوتوفیق هم اعطا کوی. پرطاعت امر ظاهری دی اودحق توفیق دهغی باطن دی، له ګناه څخه ډډه کول ظاهری امردی ، ولی دمعاصی په ترک کی غیرت کول دهغی باطن دی. دخدای پرتوفیق باندی تمسک وکړه، اوپه حمیت اوغیرتمندی دمعاصیو په ترک کی زیاروباسه، اودخدای قدرت پواسطه دستونزو اوکړاونو پروړاندی صابره اوشکیبا اوسه.

دعقل په ملګرتیا اودعقیدتی له ثبات سره، دښه نیت سره ، اوزما پرنسبت له تهمت اواوفتراء څخه په لیری والی ، زما خواته راشی، حسن ظن ولری، ځکه هرهغه څه چی تاسو ته وایم ستاسو په ګټه ده نه په زیان. ای هغه کس چی ما تورنوی، سبابه دامرواقعیت درته ښرګند شی، په هغه څه چی ګومارل شوی یم، زما مزاحمت مه کوی. ددنیا دروندوالی په سر اودآخرت دروندوالی په زړه سره احساسوم، اوخدای دپیژندګلوی باراوشدت می په باطن کی ځای ورکړی. آیا کوم ښوک شته چی زما سره مرسته اویاری وکړی؟

دخدای حمد اوشکردی چی په دی درنده دنده کی پرته له خدایه بل احد کس ته اړنه یم.

هوښیاراوسی اوداولیاء الله دقوم پروړاندی حسن ادب مراعات کړی، دوی دښوئیدنی مخنیونکی اودعبادو اوښارساتونکی دی، ځمکه ددوی دوجود پواسطه ساتله کیږی، نه دریا اونفاق په واسطه، اونه دتاسو دشرک پواسطه، ای دخدای اورسول ددښمنانو ډلګی، ای وچو لرګیو چی پرته له اوره دبل ښیزلپاره نه پکاریږی.

لویه خدایه ، زما اوددوی توبه ومنه، مااوددوی دغفلت له خوبه راویښ کړه، پرما اودوی رحم وفرمایه، زړونه اوغړی موله تاپرته له غیروپاک وګرځوه، اوکه ددنیا داموراتوڅخه هم کوم نصیب ولرو هغه مود عیال اواولاد برخه وګرځوه، نفسونه مودآخرت اوزړونه اوباطن مو دځان لپاره ځانګړی کړه، آمین.

(ای دخدای بنده) څه شی ستا خواته نه راځی، ته باید په یوازیتوب سره دځان په فکرکی اوسی، په ناچاره باید دخدای پروړاندی مخ راوړی، په عمل کی زیاروباسه اوثابته اوسه، ترڅودعمل توفیق ترلاسه کړی، ځکه چی الهی توفیق ستا محرک دی اوتا په سرعت اوبیړه سره داوامرو ترسره کولوته ګوماری.

وای پرتا! خپل ځان دی دخلکوڅخه دخوف اوپرته له خدایه په غیرو، درجاء په ځنځیرترلی دی. داقیداوبند له خپلوپښوڅخه لیری کړه اودپروردګارپه خدمت بوخت اوسه، ترڅو دی نفس دمطمئنه نفوسومرتبی ته ورسیږی، اوله دنیا اوشهواتویی، له ښځو، اوهرڅه چی په دنیا کی دی اړیکه پری کړی، اویوازی په خدای پوری وصل شه. اوپه داهم پوه شه چی ، هرڅه چی ددینا څخه ستا برخه وی، پرته له حرص اوآزڅخه درته رسیږی، که داسی وی نودحق پروړاندی زاهد بلل کیږی، اودکرامت په سترګو به درته کتل کیږی، ولی ترهغی چی په خپل زوراوځواک اوپه هغه څه چی په لاس کی یی لری، متکی وی، هیڅ شی به دی نصیبب هم نشی.

یوه له بزرګانو(دخدای رحمت دی وی پری) فرمایلی: (مَادامَ فِی الْجیبِ شَیْئٌ لاَ یَجئُ مِنَ الْغَیبِ شَیْئٌ)-« ترهغی چی په هغه څه چی په لاس کی یی لری پایبند اوسی، له غیبه به درته څه ونه رسیږی».

لویه خدایه، په دنیوی اسبابو له توکله، اوپه هوااوهوس اونفسانی عاداتوله زړه ترلو اودېټولو ناروا په ټولو احوالاتوکی ، تاته پناه دروړو!

**و«آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار». آمین**